

# نجم الرحمن « مواج »

د نشرنیټه : 8 مارچ 2025 میلادی

## شپېې

لاړلې تیرې شوې بېباکې شپېې
هغه خوږې اومینه ناکې شپېې

د سترګو رپ کې مرغلرې لاړې
د یتیم اوښکې غوندې پاکې شپېې

څه که خوږې دي یا ترخې د ژوندون
تل تېـــرومه په خپـــلواکې شپېې

دهوډ ریښنې چې یې مضبوطې نه وي
هغوی به تیرې کړې کاواکې شپېې

چې د ګل مینه پټ په زړه کې ساتي
تل تـــېروي داغزوخواکې شپېې

د حقیقت ډیوه چې ولګېــــــــږي
پتنګان شمېرې په رڼاکې شپېـــــې

مواجه ځیرهرې شپېې ته دي شه
لکه تېرېږی چې برښـنـاکې شپېې

***

نجم الرحمن « مواج »

ترتیب کوونکی : برمل « مواج »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org